# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



چانګ چيه چنګ
ژباړه: فرهاد وياړ

۰۲ فبروری ۲۰۱۷

## نورمن بسيون په چين کې

**(۴)**



ملګري بسيون د صدر مائو اثر «اوږدمهاله جګړه» په ځيرتيا مطالعه کوه. د دې اثر تر اغيزې لاندې يې داسې وويل:«سمه ده! کومه جګړه چې مونږ مخې ته بيايو د ولس يوه اوږده مهاله جګړه ده چې په يو بشپړ بل ډول وضعيت کې تر سره کيږي. نور د پخوا په شان د جبهې لومړی کرښه او د جبهې شا نه لرو. مونږ ښايی هغه ځای ته لاړ شو چې هلته مو ټپيانو دي.»



د کال د پای شاوخوا و چې ملګري بسيون يو روغتيايي ټيم د **يانګ چياچوانګ** کلی ته رهبري کړ.



د لارې په اوږدو کې د هوا د ډېر بد وضعیت سره مخامخ شول. ډېر تیز توپان و او د ملګري بسیون سر او مخ په واورو ډک شوي وو. په ملنډو یې وویل:« د سینګار کولو پرته د بابا نوئل په شان شوی یم.» د دې په ویلو سره ټول په خندا شول.



روغتیایی ټیم بی له ځنډه د غرونو هسکې څوکې شا ته پرېښودلې تر څو چې د یانګ چیاچوانګ کلي ته ورسیدل. ملګری بسیون بی له ځنډه په کار پیل کړ.



په دې کلي کې، ملګرې بسیون یو کوچنی کلینیک د جراحی په یو مرکز بدل کړ. په دې روغتون کې چې د غلچکي جګړې د وخت لپاره ځانګړی شوی و، په داسې ډول يې کار کاوه چې دښمن د هغه له پيدا کولو او نابودولو عاجز پاتې کيدو. په واقعيت کې د دې روغتون ځيني برخې د کليوالو په کورونو کې وې.



د دې لپاره چې نور روغتيايی کدرونو هم په کار بوخت کړای شي، ملګرې بسيون د ښوونی او عملي کار ټولګي جوړ کړل چې زده کړيالانو په هغه کې تئوري او عمل دواړه په یو وخت کې يادول.



ملګری بسيون نه ستومانه کيدونکی ښوونکی و. په آرامۍ او په زړه پورې ډول يې خپل درس ورکاه او په درس کې تئوری له عمل سره يوځای کوه. روغتيايی مفاهيم يې په روښانه او ساده ډول ځرګندول چې زده کړيالان يې په آسانی درک کړي.



د دمي په وخت به ملګري بسيون له زده کړيالانو غوښتل چي د يو بل سرونه په پاکي وخروي يا دا چي خټکی قاش کړي چي دوی د ټپيانو پر سرونو د جراحی د عمل لپاره چمتو شوي.